# د سليم راز په شاعرئ د ترقي پسندئ اثرات

# Depiction of Progressivism in the Poetry of Saleem Raz

[1] Mohammad Farooq Anjum

## ABSTRACT

*The progressive movement appeared against the romantic and ideological thoughts in Europe in the 20th century and gave emphasis on social elements and brought resistance in feelings and thoughts .This movement has also influenced Pakistani literature in general and Pashto literature in particular .Most of the writers and poets took part in the progressive activities. Saleem Raz is one of the prominent literary figure of Pashto literature. Like other poets of his age he is also affected by progressive movement .In this article the impacts of progressive movement on his poetry have been explained.*

Pukhtunkhwa Journal

[1] Assistant Professor, Department of Pakistani Languages, NUML, Islamabad ,
farooqanjumpashtonuml@gmail.com

ترقي پسند تحريك ادب د خيالي دنيا او تصوراتو نه را بهرکړو او زميني حقيتونو سره ئې سم او اوګه په اوګه روان کړو او ادب د ادب دپاره نه بلکې ادب د ژوند لپاره د نظريې پابند ئې وګرځولو د دې تحريك د اثراتو او مقصديت په حقله ثاقب رزمي ليکي:

"ترقی پسند تحریك نے ادب کو زندگی کے مادی رشتوں سے منسلك کیا خالص داخلت اور روحانی ماورائیت کے اثر سے آزاد کیا. معاشی ،سماجی اور نفساتی مسائل کا ترجمان بناںا اور ادب میں نئے تجربوں کي راہیں کھولیں۔ اس نے اپنی انقلابی رجحانت سے دنیا کے محنت کش عوام کو نئی زندگی کا پیغام دںا اور انہیں استحصال، استحصالی قوتوں اور سامراج کے خلاف آواز اٹھانے کا حوصلہ دںا۔ اس طرح عوام میں تاریخ میں پہلی بار واضح طو ر پر طبقاتی شعور پیدا کیا گیا۔ ترقی پسند تحریك نے زندگی کو بہتر خطوط پر تقلب کي نوید دی اور عوامی جدوجہد کا احساس پیدا کیا. اجتماعت کے تصور کو ابھاراںاور بتاںا کہ استحصالی قوتیں ہي انسانی معاشرے میں عوام کي جہالت، بیماری، پسماندگی اور ناداری کي ذمہ دار ہیں۔ ادب کو سماجی انقلاب کا ہتھار ٹھہراںا ، رومانںت کے ساتھ ساتھ سماجںت کے عنصر کو ابھارا. ترقی پسند حقںقت نگاری ، روشن خںالی اور خرد افروزی کو فروغ دںا۔ مصنف کے تخںل کو ارضي رشتوں کا پابند کیا۔ جمہوری اقدار کا تحفظ کںا۔ انسانی معاشرے میں محنت کش عوام اور استحصالی قوتوں کے درمںان ہر لمحہ جاری جنگ کو خیر وشر کي جنگ قرار دںاُسے ذہنوں میں اجاگر کںا اور محنت کش عوام کو تارںخ کا معمار بتاںا"(۱).

ترقي پسند تحريك د ادب رشته د ژوند سره وتړله او سماجي , اقتصادي او نفسياتي کشالي ئې ادب ته رانناباسلي او په يو داسې انداز کښې ئې اولس ته وړاندې کړې چې هغوي کښې ئې يو نوې حوصله , د استحصالي قوتونو په ضد د آواز وچتولو او د سماجي لرې برې د نوغي وېستلو احساس پېدا کړو۔

دې تحريك په پښتو شاعرۍ هم کښې يو غټ انقلاب راوستو او د پښتو ليکوالو سوچ او د ليك انداز ئې بېخي بدل کړو۔ د ترقي پسندۍ چې کومې غوښتنې دي چې په شاعرۍ کښې د معروضي حقائقو ښودنه، د ظالم لاس نيول, د مظلوم مرسته , د نادار او مفلس دادرسي, اقتصادي خوشحالۍ لپاره هلې ځلې او حريت پسندي دې د زلفو رخسار د تذکرو او مبالغه آرائۍ ځائے ونيسي او شاعري دې په رېښتوني توګه ژوند ته د وړپېښو مسئلو ترجمانه شي هم دغه مقصدونه د ترقي پسند تحريك د اثر لاندې پښتنو ليکوالو سر کړل او لا تر دې دمه دا سفر روان دے۔ د ترقي پسند تحريك سره تړلي هغه نوموړي شاعران چا چې پښتو شاعرۍ له يو ځانګړے مقام ورکړو او د ترقۍ په بام ئې ودروله په هغوي کښې سليم راز يو داسې نوم دے چې د خپل اعلى فن او فکر په لحاظ وړومبي صف کښې ولاړ دے۔ ترقي پسندي, طبقاتي مبارزه او انقلاب د سليم راز د ژوند درې توکي دي.هميش خليل د سليم راز د دغه ترقي پسند فکر په بابله وائي:

" پښتو کښې سليم راز يو ترقي پسند شاعر او اديب په حېث پېژندلې شي۔ د دوي د فکر او فن بنياد په سوشلزم دے او هم د دغه نظام حيات د اصولو او نظرياتو پرستار هم دے او مبلغ هم دے".(۲)

سليم راز په شاعرۍ کښې د مقصديت قائل دے۔ هغه د خوار غريب او لړزېدلي اولس دپاره د خوشحالۍ او جنتونو خوبونه ويني او هم د دوي په درد دردېدلے ښکاري۔ ځکه خو عبدالحميد زاهد وائي چې:

" سليم راز ټول ژوند د خپلي او بې وسه انسانانو د روښانه سباون دپاره هلې ځلې کړې دي۔ سليم راز يو ترقي پسند سوچ لرونکي انسان دے هغه د رنګ و نسل او قوميت نه بالاتر دے او د هر مظلوم دپاره ئې آواز پورته کړے دے".(۳)

مفلس دراني په خپل مضمون "جادوګر قلمکار" کښې د سليم د شخصيت او فن په بابله ليکي:

"د سليم راز شخصيت دومره ګور او ځانګور دے چې په دې لړ مضمون کښې د هغه په شخصيت او د هغه په فن څه وئيل که ناممکن نه دي نو ګران ضرور دي ځکه چې هغه يو ترقي پسند شاعر او ليکوال دے هغه يو صحافي او په پښتو او اردو کښې ستر کالم نګار هم دے او د ټولو نه زيات هغه يو ښه انسان دے هغه يو انقلابي خو جمهوري ذهن لري هغه د انسانانو ترمينځه هر قسم طبقاتي او نسلي فرق لرې کول غواړي هغه يو داسې انقلاب غواړي

چې د هغې په نتيجه کښې د ظلم جبر , جنګ, تربګنۍ , استحصال , لوږې , غربت , جهالت , توهم پرستۍ او د فرقه واريت په ځائے امن , مساوات, عدل وانصاف, وروروليِ , مينه, ترقي او د علم رڼا خوره شي۔ هغه خپله دغه آفاقي نظريه داسې ځرګندوي۔

چې سفر ئې تل د مينې سفارت دے
زه د هغه قافلې نمائنده يم
سرحدونه مې نظر کښې نه ځائيږي
د نړۍ د هر وطن زه باشنده يم"(۴)

د سليم راز په شخصيت د باچا خان او د کاکاجي صنوبر حسېن د افکارو اثر ؤ او هم دغه آثار د دوي په شاعرۍ خواره واره ليدے شي۔ د زبير حسرت په قول:

"راز صاحب لکه چې مونږ ټولو ته معلومه ده د هشتنغر د دواوړ سره تعلق لري او د پښتونخوا په دغه ټوله علاقه د باچا خان د خدائي خدمتګار تحريك اثرات يوه فطري خبره ده۔ پښتو نخوا کښې د دغه لوئے او تل پاتې تحريك نه را په دې خوا دويم لوئے تحريك د ترقي پسندۍ تحريك دے چې په دې سيمه ئې د ټولو لوئے داعي کاکاجي صنوبر حسېن مومند ؤ او د خپل فکر او مزاج له رويه ښاغلے سليم راز د هر دواړو تحريکونو د سپين سپيڅلو شخصيتونو باچاخان او کاکاجي صنوبر حسېن مومند د مشن, پېغام او مقصد يو ساهو ليکونکے او رسونکے غړے پاتې شوے دے اګرچې د راز صاحب په شخصيت کښې د شخصيت پرستۍ ماده بېخي نشته خو دغو شخصيتونو چې کوم افکار , خيالات او نظريات لرل د راز صاحب دغه افکارو, خيالاتو او نظرياتو سره يو کلك تړون ؤ او دے چې بېلتون ئې تر يې په هېڅ قيمت نشي کېدے او هم په دې اساس د راز صاحب په شاعرۍ ددغه دواړو تحريکونو اثرات هم غالب ليدے شي"(۵)

سليم راز د ژوند زياته برخه د سوشلستو خيالاتو په خورونه کښې تېر کړو دا ئې خپل مقصد او مدعا ګرځولې ده۔ ټوله شاعري ئې د ترقي پسند منشور پابنده او د اشتراکي مقاصدو د حصول وسيله ده۔ افضل ټکور د دوي د شاعرۍ ستائنه په دې ټکو کوي۔

"سليم راز د خپل ادبي عمر ډېر کلونه د پښتو ادب سره , د پښتو شعر سره او د پښتو او پښتونولۍ سره په مينه کښې تېر کړي دي, ښه او درنه شاعري ئې کړې ده۔ د هغه شاعري نظم دے او که غزل ځانګړې د بيان ژبه , ځانګړي مفاهيم , ځانګړے ښائست او ښکلا لري---- شاعر شعر د ژوند تېرولو لپاره يوه وسيله نه ده ګرځولې بلکې د يو وطن پرست په توګه ئې د وخت د مسائلو بيان ته خپله شاعري وقف کړې ده او شعر لکه څنګه چې ښائي د سليم راز د زړه د تل نه راوتے يو انساني آواز دے چې په لر او بر خپور شوېدے"(٦)

سليم راز شعري مجموعه "زه لمحه لمحه قتليږم" د ترقي بسنده خيالاتو ترجمانه ده۔ سليم صاحب دغريب نادار اولس غم درد هم ژړلے دے۔ د ظالم دغاصبانه روئيو غندنه ئې هم کړې ده۔ "زما شعر" نومې نظم کښې وائي:

زما ماحول کښې اسوېلي بادبيږي
په چاپېرچل کښې مې غمونه اوسي
دلته ژوندون خو بس سلګۍ وهي تل
په خواوشا کښې مې ظلمونه وسي

دلته رواج د ګزارونو شته , خو
دلته دا اه بس اجازت نشته دے
دلته د ستوري مرۍ مروړل خو شته دے
دلته د سا بس اجازت نشته دے

انسانيت نه څوك آګاه هم نه دي
انسانيت په څه کښې شمار هم نه دے
نو احترام به د انسان لا څه وي ؟
انسانيت په غاړه تار هم نه دے

دلته ملګرو چې ژوند پېټے ښکاري
دلته اقدار د ژوند بدل غوندې دي

دلته ژوندون ستړے ستومان ليده شي
دلته آثار د ژوند بدل غوندې دي

دلته چړچکي د څو کسو دي بس
دلته غريب ساه اخستلے نشي
او که په سر ئي تندرونه چورلي
دے هغه سر هم خوزولے نشي

دلته هر څوك د ژوند بېزاره دے ناست
چرته د تېښتي ئي څه لار نشته
دلته هر څوك شونډې ګنډلي ګرځي
په خپلي خلي ئي هم اختيار نشته

زه ورته ګورم لوګے کېږمه خو
لمبه کېدو ته مي څوك نه پرېږدي
مرئ له غريو ځني مي چوي خو , پوتے
چغه کېدو ته مي څوك نه پرېږدي(۷)

او چي کله ماحول باندې داسي تيارې خورې وي , حالات چيچل کوي نو په داسي صورت کښې د زلفو , رخسار , د بهارونو او خوشحالو خبرو له خپل شعر کښې ځائې ورکول عبث ګڼي ځکه خو وائي:

دې غمزپلي شان محفل کښې ورونو!
قېصه د زلف او د رخسار څه وکړم؟
چي مي خزان په ژوندون خور وي خلقه!
زه به ستائينه د بهار څه وکړم

زما ملګري دې اوس وائي کنه
څرنګ خواړه , څرنګ پاسته وليکم؟
دا معترض خو دي ما پوه کړي کنه
چي داسي نه ليکم نو څه اوليکم؟ (۸)

"خواريکښو" نومې نظم کښې د محنت عظمت په ګوته کوي او محنت کوونکو مزدور کارو ته په يو موټے کېدو زور اچوي او د استحصالي نظام غندنه کوي۔

"د محنت عظمت په هر عصر تسليم وي
ورته هېڅ په مقابل کښې زر او سيم وي
چي تر څو دغه نظام د زرګرئ وي
انسان به په طبقاتو کښې تقسيم وي

تش کلام باندې فرعون نه خلاصي نشته
په يو لاس کښې به عصا هم د کليم وي
سر به ټيټ نه کړي هېڅکله يو طاقت ته
سپك ونه ګڼی انسان , انسان عظيم وي

خوارو زارو خواري کښو که يو نه شوئ
تل په سر به مو ګزار لکه يتيم وي"(۹)

په "باغي يم" نظم کښې د سماجي لړي بري ذکر کوي او د سماج دپاره د يو داسي راج غوښتنه کوي چي په کښې د انسان او انسانيت احترام او قدر وي هغه وائي:

چي قدغن د خلي په سا د زړه په آه وي
چي شکوه هم پکښې جرم وي ګناه وي
چي زړه , دهن , خله , نظر , ضمير غلام وي
زه له داسي رواياتو نه باغي يم
د انسان او سړي توب چي احترام وي
زه منونکے د هغي رواج د راج يم

لټونکے د هغې ښکلي سماج یم(۱۰)
سلیم راز په خپل نظم "سحر نزدې دے" کښې پرېوتي طبقې او خوار غریب اولس له تسله ورکوي ډېر زر ده چې د سرمایه دارو راج به دړې وړې شي۔ او د برابرۍ او خوشحالۍ یو ښه نظام په راتلو دے۔ راز صېب وائي۔

ده ناممکن چې د شعلو مخکښې ولاړ پاتې شي
د تورو شپو دا تور فوځونه به خواره واره شي
رڼا د نمر ورته په ملا باندې خنجر به شي اوس
تیَرې به قتل شي دا راج به ئې اوړه اوړه شي
د سحر ستورې راختلے دے , سحر به شي اوس
نمبر راختو کښې دے , ښکاره له پورې غر به شي اوس(۱۱)

سلیم راز چې کله ژوند تېارې تیارې ووینې او د هر لورې مایوسه شي هېڅ رڼا او اسره نه وینې نو بیا د نظام د بدلولو دپاره د بغاوت او د اولس د مزاحمت نه علاوه بله لاره نه وینې او په جار وائي:

دلته ژوند باندې تیرې دي
دلته ژوند باندې پهرې دي
د ژوند وینه که خوله ده
د څو کسو پرې قبضه ده
خو, دا ژوند د ژوند توهین دے
چې نفرت دے هم نفرین دے
دا قصور د دې نظام دے
ژوند خو ژوند باندې الزام دے
نو دا نظام بدلول غواړي
دا الزام ختمول غواړي
چې علاج ئې بغاوت دے
د اولس مزاحمت دے(۱۲)

"د سپرلیو خالقه" نظم کښې د الله په درګاه کښې د کلهم انسانیت د ښېګړې او خوشحالو دپاره داسې فریاد کوي:

د ونو بوټیو د سپرلیو خالقه!
لږ د انسان په ژوند سپرلي راوله
اے د ښائست او رنګینو خالقه!
پوتے خنده خوئي په خلې راوله
د خوشحالو ډکې ویالې راوله
چې څه تازه د ژوند ګلان شي کنه
څه ښېرازۍ خو دې دلې راوله
جهان د مینې چې ودان شي کنه
چې دا انسان خو لږ انسان شي کنه (۱۳)

ځنګه چې د سلیم راز د نظم لاله زاره زمکه د ترقي پسندۍ په عناصرو ښېرازه ده دغه شان هغه د غزل زمکه هم شاړه نه ده پرېښودې۔ او هغه د غزل په مېدان کښې هم د خپل مخصوص انداز له کبله سپېځلے نوم لري۔ د سلیم راز د غزل په حقله افضل ټکور د دوي د کتاب "زه لمحه لمحه قتلیږم" په سریزه کښې لیکي:

"د سلیم راز غزل د وخت د غوښتنو غزل دے۔ د ښائست نه او د مینې نه ډك غزل دے۔ د ډېرو خانګړتیاو لرونکے غزل دے۔ بل کوم ټکے چې د سلیم راز په غزلیزه شاعرۍ کښې ډېر زیات روښانه او ځلنده دے هغه د خپل قام او خپلې ژبې سره مینه ده۔ په غزل کښې پښتو او پښتنولي , فراق او وصال , غم او اندېښنې , سوچونه او ناامېدي د اوس وخت د شاعرانو یو عام رواج ګرځېدلے دے۔ سلیم راز هم له دغې مسئلې نه بې برخې نه دے۔ که څه هم د غزل په تنګه لمن کښې د طبقاتي نابرابریو بیان په اوس وخت کښې که د څو کسانو کار دے نو سلیم راز هم

په دغه ځو کسانو کښې شامل دے ځکه چې هغه خپله توله شاعري د خپل ماحول د ناسازه حالاتو بیان او د طبقاتي نابرابر یو غندنې ته وقف کړې ده۔ ځکه چې هغه په شاعرئ کښې د ټیټې طبقې پلوي کوي تل د محکوم او مظلوم طرف دار دے۔ هغه لکه ځنګه چې د خپلې تولنې له زیار کښ انسان سره مینه لري او یو ترقي پسند او په وطن مئین شاعر دے دا ډول دهغه شاعري او ادب هم د زیار ایستونکیو او محنت کښې طبقې دپاره ده۔ هغه ژوند په اصلي مفهوم سره غواړي۔ او د انساني ژوند , انساني ټولنې له پاره هلې ځلې کوي۔ هغه ژوند په مینه غواړي او د انساني ژوند له پاره ئې چغه پورته کړې ده۔هغه ژوند د خپل اولس له پاره غواړي او هغه ژوند غواړي چې د هغه اولس او د هغه د خپلې طبقې خلق ورته نیاز لري"(۱۴)

د ښاغلي افضل ټکور پورته اقتباس کښې ښرګند شوي خیالات ټك په ټك د سلیم راز د غزل په آئینه کښې لیدے شي۔

لکه د هغه دا غزل:

ښکلا او ژوند سره اولفت به کوؤ
دا عبادت دے عبادت به کوؤ
دوه مئین زړونه چې په زوربیلوي
دغي سماج نه بغاوت به کوؤ
چې کوم نظام کړي استحصال د اولس
تل ترې نفرت نفرت به کوؤ
که مونږ نادار, بادار په دار خېژوي
رازه د خوارو حمایت به کوؤ(۱۵)

په یو بل غزل کښې هم ددغه رنګه جذباتو اظهار دے وائي چې:

که مزاج د سامراجیانو فرعوني دے
نو انداز مې د کلام هم کلیمي دے
جنت ځنګه چاته جوړ کړمه آسمان کښې
چې الهام مې زماني دے زمیني دے
زه د خوارو او خورو پښتنو غم خورم
زما فکر اولسي دے هم ملي دے
تل خوراك به یو انسان د بل انسان وي
چې ترڅو دغه نظام د زرګري دے

هیڅ له دار او له دارا مې ویره نشي
چې نصیب مې دا منصب د لېوني دے
لب ولهجه مې د غزل کړه رازه! نوې
انقلاب پکښې فکري دے هم فني دے(۱٦)

راز صیب تل په خپل غزل کښې ناسازګاره حالاتو , بې انصافی , د غټانو ظلم , د پربوتې طبقې د بې وسو ذکر کوي او دغه شان د غریبي او بې وسې طبقې سره د همدردئ ښرګندونه کوي۔

چغې وهم به تل ترتله د انسان په قتل
څه رنګ چپ پاتې شم ملګریو! د خپل ځان په قتل
بیا شو سپرلے بیا د سرو وینو باران وریږي
بیا به هر ګل وي په خندا د ګلستان په قتل
د کوم منصف نه تقاضې لا د انصاف به کوم
منګولې سرې دي د هر چا د خپل ایمان په قتل
د عالمي ضمیر ګرېوان ته ځکه لاس اچوم
چې خاموشې ئې ډېر زړور کړل قاتلان په قتل(۱۷)

د عدم مساواتو, سماجی لرې برې او طبقاتي درجه بندئ غندنه کوي او وائي چې:

دا لا څه رنګ مساوات دي, دا لا کوم قسم انصاف دے

یو جابر دے بل مجبور دے , یو غالب دے بل مغلوب دے
د شوکمارو بادشاهي ده, قاتلان دي په مزو کښي
توره تپه شپه خوره ده نمر د غرونو په شا ډوب دے
چې ئې ګل نه رس زبېښل دے د چمن واکدار بورا دے
چې ئې وينه په ګل توي ده , نن هغه بلبل معتوب دے
ويني چا بوټو له ورکړې, ژوند پرې چا ځان له ازغن کړو
چمن ياد د چا په نوم دے , ګل د چا په نوم منسوب دے(۱۸)

سليم راز صيب که هر څومره د نادارو د ناسازو حالاتو او د طبقاتي لړي بري ذکر کړے دے خو هغه نادارو او زپلي اولس له د امن او مساواتو د قيام او د سرمايه دارانه نظام د ړنګېدلو زېرے هم ورکوي:

درنګ ساعت له راختونکے دلته نمر دے
په مسکا باندې شفق له پورې غر دے

پرق زاره د تورې شپې زر په چاودو ده
چې مايوسه نه شئ ملګريو بس سحر دے
تار په تار که د پرولتار ملګريو! نه شوئ
ړنګېدونکے زر نظام د زوراو زر دے(۱۹)

سليم زارصيب يو ډېر ژور طبقاتي احساس لري۔ هغه د سرمايه دارانه نظام , د استحصال او زور ظلم خلاف دے۔ او بې د يرې ترهې ئې د زماني د هر جابر او ظلم خلاف د مظلوم او غريب په مرسته کښي آواز پورته کړے دےهغه "ادب د ژوند دپاره " د نظريي قائل دے خو دي سره سره هغه ژوند د ادب دپاره ګڼي۔ راز صيب په انسانيت مئين دے او بشري حقونو له په هر څه اوليت ورکوي۔ هغه د انسانيت د ښېګړې , خوشحالو او آمن دپاره انقلاب راولي۔ که مونږ وګورو نو د راز صيب په شاعرۍ کښي دغه ټولي نخښي نښاني ځلنده په نظر راځي ځکه چې هغه په فکري لحاظ ترقي پسنده دے

## حوالي


۱۔ ثاقب رزمي, ترقي پسند نظريه ادب كي تشكيل جديد, لاهور, آئينه ادب, ۱۹۸۷ , ص ۲۱ , ۲۲

۲۔ همیش خلیل، پښتانه لیکوال، دوئم ټوک، پېښور، یونیورسټي پبلېشرز، ۲۰۱۱ ، ص ۲۰۸

۳۔ عبدالحمید زاهد، مولف/مرتب، د سلیم راز سریزې، پېښور، عامر پرنټ اینډ پبلېشرز، ستمبر ۲۰۱٧ ، ص ۹

۴۔ مفلس دراني ، "جادوګر قلمکار" (مضمون) مشموله سلیم راز فکر، فن او شخصیت ، مرتب حنیف خلیل، پښتونخوا ، انجمن ترقي پسند مصنفین ، نومبر ۲۰۰۳ء ، مخ:٦٥

۵۔ زبېر حسرت ، شرعي ته سمه شاعري (مضمون) ، مشموله سلیم راز فکر ، فن او شخصیت، مخونه:۱٤٦ ، ۱٤٧

٦۔ افضل ټکور ، سریزه مشموله زه لمحه لمحه قتلېږم ، د سلیم راز، پېښور، یونیورسټي پبلشرز ، جنوري ۲۰۰۹ء ، مخ: ۱۲




Pukhtunkhwa Journal

۷. سليم راز ، زه لمحه لمحه قتليږم، پېښور، يونيورستي پبلشرز ، جنوري ۲۰۰۹ء ، مخونه : ۴۷ ، ۴۸

۸. هم دغه، ص ۵۰

۹. هم دغه ، مخ: ۵۷

۱۰. هم دغه ، مخ: ۱۰۹

۱۱. هم دغه ، مخ: ۱۰۸

۱۲. هم غه ص ۵۶

۱۳. هم دغه ، مخ: ٦۱

۱۴. افضل ټکور، سريزه ، مشموله زه لمحه لمحه قتليږم ، د سليم راز، مخونه: ۱۳، ١٤

۱۵. سليم راز ، زه لمحه لمحه قتليږم،مخ: ۲٦

۱٦. هم دغه ، مخ: ۷٦

۱۷. هم دغه ، مخ: ۸۳

۱۸. هم دغه ، مخ: ۹٦

۱۹. هم دغه ، مخ: ۷٤

Pukhtunkhwa Journal